دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسی

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسي له الله جل جلاله سره رښتیني مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسي سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همۀ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگـر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعـت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

شهادت شپږم کال، ۲۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د وږی ۴ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د شوال المکرم ۲۹ مه د ۲۰۱۴ م د آګست ۲۲ مه

عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان در مجلس بزرگداشت از چهلمین سالگرد شهادت انجنیر حبیب الرحمن اولین شهید نهضت اسلامی کشور:

انجنیر حبیب الرحمن از پیشگامان نهضت رهایی بخش در جهان اسلام بود

* در انتخابات ریاست جمهوری تقلب گسترده صورت گرفت/ * دولت وحدت ملی را بحیث اخف ضررین پذیرفته ایم

گزارشگر: سحر «گلبهاری»

بعد از ظهر شنبه اول سنبله سال روان، طی محفل با شکوهی از چهلمین سالروز شهادت مجاهد راستین، اسوۀ تقوا و اخلاق انجینیر حبیب الرحمن گرامیداشت صورت گرفت.این محفل که از طرف حزب اسلامی افغانستان تدویر یافته و در آن برخی از اعضای کابینه، نخبه گان جهادی، نماینده گان مردم در شورای ملی، اعضای شورای اجرائیه حزب اسلامی افغانستان ،مؤلین و فرماندهان دوران جهاد ، وارثین و اعضای خانوادهای شهدا ،فرهنگیان و علاقمندان شهید اشتراک ورزیده بودند.

محفل حوالی ساعت ۳۰ : ۳ بعد از ظهر با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید توسط محترم قاری عتیق الله آغاز گردید.

سپس محترم مولوی جانباز سرفراز عضو شورای اجرائیه به نمایندگی از حزب اسلامی مهمانان را خوش آمدید گفت:

محترم مولوی سرفراز ، شخصیت انجنیر حبیب الرحمن را در روند مبارزات اسلامی برجسته توصیف... (ص، ۳)

دواړه کاندیدان لاهم د اجرایوي مشر د صلاحیتونو پر څرنګوالي نه دي سلا شوي

که دواړه کاندیدان په راتلونکي حکومت کې د ولسمشر او د اجرایوي شورا د مشر د صلاحیتونو پر څرنګوالي سلا نه شي؛ دا به د دوی ترمنځ نورې شوې موافقې هم اغیزمنې کړي (سانچاره کې)

کابل، رسنۍ:

د افغانستان د جمهوري ریاست د دواړو انتخاباتي ټیمونو استازي وایي، چې دواړه کاندیدان به تر دوو ورځو پورې د ملي وحدت حکومت د جوړېدو په اړه یوه کلي توافق ته ورسیږي.

په راتلونکي حکومت کې د ولسمشر او د اجرایوي شورا د مشر د صلاحیتونو څرنګوالی هغه دوه اختلافي مسایل دي؛ چې تراوسه دواړه کاندیدان موافقې ته نه دي بریې رسیدلي.

د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د اصلاحاتو او همپالنې ټیم ویاند سید اقا فاضل سانچاره کې وایي؛ چې دواړه کاندیدان په دې اړه په خبرو بوخت دي او هیله شته، چې تر دوو ورځو پورې یې په اړه موافقه وشي.

تومورۍ د دوشنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل؛ چې که دواړه کاندیدان په راتلونکي حکومت کې د ولسمشر او د اجرایوي شورا د مشر د صلاحیتونو پر څرنګوالي... (۴ مخ)

چرا حماسه به فاجعه انجامید؟ دیگر باید بازی پایان یابد!

قاضي محمد فایض

(ص، ۲)

د رجب طیب اردوغان سیاسي ژوند او مبارزه

تحلیل او راټولونه: عبدالله کامه وال

رجب طیب اردوغان د ترکیې لومړي وزیر دعدالت او پرمختیا دګوند رئیس، مشهوره سیاسي څیره، دسیاسي خیرکتیا نه برخمن شخصیت، او د خپل ولس پر سیاسي او ټولنیزو رموزو پوه او اګاه دی چې دهمدې پوهې پر برکت د میلونونو ترکانو پر زړونو واکمني کوي.

رجب طیب اردوغان پخپله سیاسي پوهه او بصیرت دترکیې ولس پردې قانع کړ چې دی یوسخت دریځه مسلمان نه؛ بلکې یو اصلاح پلوه او روشنفکره شخصیت دی او پخپلو قوي اقتصادي او سیاسي برنامو به د ترکیې تیر برم او روڼ تاریخ بیا راژوندي او ترکیه به د نړۍ د سرخیلو ولسونو په کتار کې ودروي. ... (۳ مخ)

د وسلو د ورکېدو په اړه د سیکار د ادعا په اړه ځواب ورکولو ته چمتو یو

کابل، رسنۍ:

د افغانستان د ملي دفاع او کورنیو چارو وزراتونه د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د سرمفتش وروستی راپور ردوي او وایي، د وسلو د ورکېدو د ادعا په وړاندې ځواب ورکولو ته چمتو دي.

د افغانستان د پوځ لوی درستیز جنرال شیرمحمد کریمي د دوشنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل؛ چې د ملي اردو د تجهیز او پیاوړتیا لپاره چې څومره مرستې شوي؛ دوی یې په مسولیت سره حساب ورکولو ته حاضر دي.

شاغلي کریمي که څه هم... (۴ مخ)

د پلټل شویو رایو د باطلېدو بهیر پیل شو

کابل، رسنۍ:

د افغانستان د ولسمشرۍ د رایو د ارزولو بهیر چې د څنډ له لحاظه یې په نړۍ کې ساری نه لیدل کیږي، پای ته ورسید او د رایو د باطلېدو بهیر پیل شو. خو کمیسیون روښانه نه کړه چې وروستی پایلې به څه وخت اعلان شي.

د افغانستان خلکو کابو شپږ میاشتې انتظار وایست تر څو د ټاکنو پایلې اعلان شي او نوی ولسمشر پر خپل کار پیل وکړي. خو دا، لا د کار پای نه ده. د رایو ۶۰۰۰ صندوقه چې مشکوک دي، په راتلونکو ورځو کې به په ځانګړې توګه وارزول شي. دغه صندوقونه په اصطلاح د "برخلیک ټاکونکو" صندوقونو په نامه هم یادیږي او هم دغه صندوقونه د دوهم پړاو ټاکنو سرخوږي وو. دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو کمیسیون د پایلو د اعلانولو له پاره پوازې شپږ ورځې وخت لري. څکه چې ولسمشر حامد کرزي د "نوي ولسمشر د لوړې" له پاره یو ضرب الاجل ټاکلې دی. ... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د انتخاباتو ناڅرګند نتایج، نامرئی لاسوهنې او مبهم مستقبل

ولس چې په کوم ذوق او علاقه‌مندی په انتخاباتو کې برخه واخسته هیڅا هم تصور نه کاوه، چې دا انتخابات دی پر یوه دغسې بد برخلیک اخته شي. دا چې د شفافو او عادلانه انتخاباتو مسؤولیت د چا وښایې هیڅوک هم ونه شي ویلای چې دا د نوماندانو مسؤولیت و؛ سهی ده چې دا د نوماندانو ایماني، وجداني او قانوني مسؤولیت و چې د شفافو انتخاباتو له بهیر سره یې ملاتړ کړی وای: خو اصلي مسؤولیت د دولت او بیا د انتخاباتو د کمیسیون و. که چېرې دولت په ځان کې دا وس نه لیده، بیا بهتره دا وه چې خپل معاذیر یې وړاندې کړی وای او دوه دری میاشتی وخت یې اخستی وای، لومړی یې ځان چمتو کړی وای او بیا یې انتخاباتو ته اقدام کړی وای: خو دا چې دولت همداسې بی ګودره پر سیند ورګډ شو، داسې هم نه وه چې دولت په دې اړه هیڅ پروګرام نه درلود؛ بلکې کومه مهندسي یې چې کړی وه دهغې د عملي کولو لپاره یوه همدغسې متشنجه فضا په کار وه: ځکه کبان خو په خړو اوبو کې ښه نیول کېدای شي.

د انتخاباتو لومړی پړاو هم د ملت په مخ کې و، او دوهم پړاو هم، دا چې د یوه نوماند ۴۵ سلنه رأی ۴۳ سلنو ته راکوزی شوې او د بل له ۳۱ سلنو نه ۵۶ سلنو ته لوړی شوی. حال دا چې د لومړی پړاو قوي ټیمونه هم د ۴۵ سلنو له وړونکی ټیم سره ملګری شول چې د اټکل له مخې د لومړی پړاو ګټونکی ټیم ته د دوهم پړاو ګټات هسې د اوبو یو غوړپ ښکاریده؛ خو کوم څه چې وشول ټول ولس یې سربداله کړ او هغه څه وشول چې په هیڅ عقل او منطق جوړ نه راتلل.

د انتخاباتو د نتایجو د نه منلو په اړه چې کوم څه رامنځته شول هغه هم پټه خبره نه ده چې تکرار یې لازم نه بولو، تر هغې چې امریکا مداخله وکړه او پر هغې طرحې چې د ولسمشری دوه مرستیالانو جوړه کړی وه موافقه وشوه؛ خو دا موافقه شفاهي وه: نو ځکه خو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر یو ځل بیا کابل ته راغی او دا ځل یې پر دواړو نوماندانو، کړی موافقه لاسلیک کړه. د موافقی عمده ټکی دا و چې:

۱- ټولی رأیې به له سره شمېرل کېږي.

۲- د ملي وحدت حکومت به جوړېږي.

۳- د ولسمشر په فرمان به اجرایی پست ایجادېږي چې اجرایی مشر به د صدراعظم په رول کې کار کوي.

۴- دوه کاله وروسته به لویه جرګه راغوښتل کېږي چې پر دې تصمیم ونیسي چې اجرایی پست په عظمی صدارت واړوي.

دا کلیات وو او جزئیاتو یې د دواړو لوریو ترمنځ یو لړ مذاکرات غوښتل چې په دې اړه یو څه مذاکرات هم وشول او د دواړو مخکښو ټیمونو مشرانو هم څو ځلي سره وکتل چې تراوسه پورې دواړه ټیمونه یوه کلی توافق ته سره نه دي رسیدلی او لا یو څه مزل په مخ کې دي؛ خو هغه څه چې د اندېښنې وړ ښکاري هغه دا چې مغرض لاسونه لا نه پرېږدي چې انتخابات خپل اصلي بهیر په طبیعی توګه طی کړي، په هغو صندقونو کې چې په دې وروستی ځل شمېرل شوی تر شمېرلو وروسته هم سپین صندقونه راووتل او نور داسی څه په کې راووتل چې اصلاً هیڅوک هم دهغی په باب پرته له دې چې پری وخاندي د ویلو لپاره څه نه لري.

نو اصلي خبره داده چې د دولت کوښښ اوس هم دا دی چې باید په هره بیه چې وي پرېنږدي انتخابات خپلې طبیعي او د منلو وړ نتیجې ته ورسېږي چې په دې توګه به یوه عبوري حکومت یا دې ته ورته حالت ته لار اواروي.

دوهم که چېرې فرضاً د دولت له ټولو هڅو سره سره دا کار ممکن نه شو. بیا به دهغه لوري د کامیابولو هڅی کوي چې دولت هم په کې خپله ګټه ګوري او دغسې هغه بهرنی قوتونه او کړی هم په دې اړه همغږي شوي دي چې ګډ هدف تعقیبوي. دا چې مقابل لوری به بیا څه دریځ غوره کوي، دې ته به وخت ځواب وایي.

✍ فدا محمد فایض

چرا حماسه به فاجعه انجامید؟

دیگر باید بازی پایان یابد!

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

ما انتظار نداشتیم که بالاخره سرنوشت انتخابات ما باز هم بدست یک قدرت خارجی رقم بخورد، گرچه طرحی را که وزیر خارجهٔ امریکا (جان کیری) به بیرون معرفی کرد، در حقیقت طرحی بود که از سوی معاونین ریاست جمهوری برآن اتفاق شده بود؛ ولی با آن هم از گوشهٔ چاردیواری ارگ یک صدا بلند میشود و از گوشهٔ دیگر صدای دیگری.

این حرف از خود منطق دارد که انتخابات شفاف و عادلانه وظیفهٔ دولت است، اینکه ادعا میشود نامزدان ریاست جمهوری هم تقلب کرده اند، حرف جداگانه است و بررسی جداگانه میخواهد؛ ولی پولیس هم از دولت بود، امنیت ملی هم از دولت بود و کمیسیونهای انتخابات و شکایات هم. باید دولت به هر قیمت جلو تقلب را می گرفت، در حالی که کمیسیون انتخابات خود اعتراف کرد که بیش از پنجهزار کارمند آن اداره در تقلب دست داشته است. پس این سوال به کی بر میگردد که چرا؟ جواب آنرا رئیس جمهور بگوید؟ کمیسیون انتخابات؟ یا نامزدان؟ وقتی یک عده نامزدان از سوی کمیسیون شکایات رد میشوند: ولی به اثر فشار ارگ دوباره نامزدی شان پذیرفته میشود. وقتی علناً گفته میشود که به فلان نامزد باوجود برندگی اجازهٔ داخل شدن به ارگ داده نمیشود، پس چه کسی مسؤول است. البته هدف من دفاع و تبرئه از یک نامزد خاص نیست و از همین جهت من از هیچ نامزدی نام هم نمیبرم: ولی باید فرد مسؤول و یا مقام مسؤول به راه اندازی ماجرای موجود شناخته شود. من دفاع نمیکنم شاید در حق هر کاندیدی کم و بیش از سوی هوادارانش تقلب صورت گرفته باشد؛ ولی مهندسیها از تقلبهای عادی تفاوت دارد و در حقیقت همین مهندسیهاست که جلو جریان انتخابات را از مسیر عادی آن تغییر میدهد و به کجراهه میبرد.

ایا جای سوال ندارد ملتی که حماسه آفرید و همه جهان هم برین حقیقت صحه گذاشته، به ملت افغان تبریک گفت که باوجود چالشها و باوجود امنیت غیرقابل اطمینان باز هم با این تعداد مرد و زن به پای صندوقهای رأی میروند و رأی میدهند؛ ولی چرا در انجام چنین حماسه به یک فاجعه مبدل شد، فکر نمیکنم هر کسی که بیطرفانه قضاوت کند این کار را تنها ناشی از تقلبات تیمهای انتخاباتی بداند.

ما انتظار نداشتیم که بالاخره سرنوشت انتخابات ما باز هم بدست یک قدرت خارجی رقم بخورد، گرچه طرحی را که وزیر خارجهٔ امریکا (جان کیری) به بیرون معرفی کرد، در حقیقت طرحی بود که از سوی معاونین ریاست جمهوری برآن اتفاق شده بود؛ ولی با آن هم از گوشهٔ چاردیواری ارگ یک صدا بلند میشود و از گوشهٔ دیگر صدای دیگری. خلاصه اینکه مردم ما سخت در انتظار اند و وضع موجود بر شانه های ملت سخت گرانی میکند، خانهٔ ما از مرکز ولایت فاصلهٔ چندانی ندارد، وقتی من این سطور را می نگارم یک روز قبل بتاریخ ۲/ ۶/ ۱۳۹۳ یکی از نزدیکترین اقارب ما که مرد سالخورده یی بود و در حدود قریب به صد سال عمر کرده بود، داعی اجل را لبیک گفت و دیروز ۳/ ۶/ ۱۳۹۳ جسدش بخاک سپرده شد، اعضای خانوادهٔ میت فقط به دوستان ساکن در کابل و مرکز ولایت خبر دادند که چنین حادثه یی رخ داد؛ ولی از دوستان خواست که هیچکدام آنهایی که در دولت کار میکنند و یا در مؤسسات وغیره غرض

اشتراک در مراسم جنازه و تدفین به دهکده نیایند که وضعیت امنیتی نهایت وخیم است. چهار، پنج روز یکی از مقامات ارشد ولایت ما گفت که مخالفین باز برای یک حملهٔ بزرگ بر کدام ولسوالی آمادگی میگیرند. طبق اظهارات مقامات آگاه همین اکنون در چهارده ولایت کشور جنگ جریان دارد، قیم اشیا با گذشت هر روز صعود سرسام آور میباید، از یک سو خود دولت در حالتی قرار دارد که وزارت مالیه اعلام میکند که اگر تا سه ماه دیگر سرنوشت انتخابات معلوم نشود، دیگر نمیتواند به کارمندان دولت معاش بپردازد، هکذا بالای وزارتخانه ها فشار میآورد که کارمندان قراردادی اش را پنجاه درصد کم کند، در حالی که وجود آنها ضرورت وزارتخانه هاست اگر وزارتخانه ها افراد خود را کم میکند کارهای مربوطه را چگونه به پیش ببرد و اگر نمیکند با وزارت مالیه چه کند. و وزارت مالیه هم ظاهراً مجبور است چرا که بقول وزارت مالیه تا چند روز قبل ۲۷ در صد عواید گمرکی کم شده بود.

البته با گذشت این چند ماه که هنوز هم سرنوشت انتخابات معلوم نیست فرد فرد ملت میداند که خلل در کجاست و سرنخ در دست کیست؛ ولی آنانی که بخاطر رسیدن به اهداف مورد نظر خود دست به هرگونه طراحی میزنند دیگر از خدا بترسند روز بد ملت را نادیده نگیرند و بگذارند که ملت دیگر صاحب یک سرنوشت شود.

ببینید امروز تمام منطقه که کشورهای اسلامی شامل اند در آتش هرج و مرج میسوزد، وجود یک گروه تا هنوز غیر تعریف شده بنام داعش از یک طرف، حرکتی که براه انداخته علی الظاهر نام دولت اسلامی و تشکیل یک دولت اسلامی بر آن گذاشته میشود: ولی آنچه را عمل میکند هیچگونه همخوانی با تعلیمات اسلامی ندارد. حملات وحشیانهٔ اسرائیل به ملت مظلوم فلسطین که حتی یهودیان نجات یافته از هولوکاست طی نامه یی این عمل سفاکان اسرائیلی را از زاویه حقوق بشری محکوم کرده اند، از سوی دیگر، وضعیتی که در پاکستان ایجاد شده و آن هم آغازش با خون بود و معلوم نیست که بالاخره چه پیامدی خواهد داشت، تعدادی از قوتهای سیاسی به دفاع از دولت برخاسته اند و تعدادی برخلاف دولت و خواهان استعفای صدراعظم و برادرش وزیر اعلای پنجاب اند که به این ترتیب ملت پاکستان هم به دو دسته موافق و مخالف تقسیم شد و هکذا وضعیت کشور خود ما. حال سوال در این است که آیا این وضعیت که از شرق میانه آغاز شده و تا افغانستان و جنوب آسیا را فراگرفته و هکذا شمال افریقا با آن که یک طوفان را پشت سر گذاشت باز هم بگونه یی با تهدید مواجه است، با هم پیوند ندارد و از یک مرجع مهندسی نشده است؟ ما فقط با یک روحیهٔ ایثار و فداکاری و از خودگذری و پذیرفتن حقایق و قضاوتها و ترحم برحال ملت بیچاره و مظلوم ما میتوانیم از وضعیت پیش آمده عبور کنیم. متأسفانه هنوز این رسم در فرهنگ سیاسی ما نهادینه نشده که به حکم قانون و در مطابقت با قانون به اقتدار برسیم و در مطابقت با قانون با اقتدار خدا حافظی کنیم: ولی بیایید این رسم را نهادینه بسازیم. گرچه اقتدار خیلی لذت بخش است و در کشور خود ما برادر را به جان برادر و پسر را بجان پدر انداخته است؛ ولی باید بپذیریم که اقتدار هم بالاخر پایانی دارد؛ زیرا جهانی که ما در آن زندگی میکنیم پایان دارد، بناء نباید بچیزی دل بست که پایدار نیست.

د رجب طيب اردوغان ...

(د لومړي مخ پاتې برخه)

اردوغان ثابته کړه چې په اسلامي روحيه روزل شوي ژمن قيادت کولای شي، دخپل ولس تقدير بدل کړي. د اردوغان ګټلي سياسي او اقتصادي پروګرامونه وو چې ترکيه نن په سياسي او اقتصادي لحاظ يو پياوړی هيواد ګڼل کيږي او ورځ تربلې ديو مستحکم سياسي او اقتصادي نظام په لور قدمونه اخلي. دطيب اردوغان له واک وړاندې ترکيه له سخت اقتصادي بحران سره لاس او ګريوان و، ان تردې چې اروپايي اتحاديې ورته پخپله ټولنه کې دګډون اجازه نه ورکوله، علت يې دا و چې دترکيې اقتصاد د اروپايي اتحاديې سره سيالۍ نه شوه کولای په ترکيه کې تر اردوغان وړاندې ديو ترکي وګړي کلني عايد ۳۵۰۰ امريکايي ډالرو کم وو؛ خو د (عدالت او پراختيا د ګوند) د واکمنۍ پرمهال دا عايد تر ۱۰۵۰۰ ډالرو لوړ شو. د دې ترڅنګ اردوغان په نظامي او قضايي ارګانونو کې يو لړ مثبت او ګټلي اصلاحات رامنځته کړل، د بډو او فساد پر وړاندې يې جدي مبارزه وکړه . د اردوغان د هر اړخيزې اوجدي مبارزې ښه پايله ده چې اردوغان دهرې ورځې په تيريدو ديو اتل په څېره کې راڅرګنديږي. نوموړی لومړنی واکمن و چې پر غزه يې داسرائيلو بې رحمانه او له وحشت نه ډک بريدونه وغندل او د فلسطين د مظلوم ولس سره يې دهمدردۍ غږ پورته کړ او اسرائيل يې يو متجاوز او د انساني حقونو سرغړونکي وباله، چې ښکاره دليل يې د ډاووس په کنفرانس کې د اسرائيلو دولسمشر شمعون پيريس سره تونده او تريخ بحث و، په کنفرانس کې به شمعون پيرس ته زيات وخت ورکول کيده چې خپله خبره وکړي؛ خو چې کله به نوبت اردوغان ته ورسيده دغونډې سمبالونکي به يې خبرې وربرې کړي، ده په وار وار غوښتنه وکړه چې ما پريږده خپلې خبرې پوره کړم؛ خو سمبالونکي چې دواشنګټن پوسټ ورځپاڼې مشهور ليکوال و او له اسرائيلو سره يې خواخوږي له هيچا پټه نه ده اردوغان ته مناسب وخت نه ورکاوه هماغه و، چې اردوغان دملګرو ملتونو دعمومي سرمنشي بانکي مون، دعرب ليګ دمشر عمرو موسی په حضور کې له تالاره راووت.

رجب طيب اردوغان د ۱۹۵۴ ز د فبرورۍ پر ۲۶ نېټه داستانبول د قاشم پاشا په غريبه او بيوزله سيمه کې نړۍ ته سترګې پرانيستې پلار يې دترکيې په شمال کې د (رزا) په ولايت کې دکانالونو دکيندلو کار کاوه. استانبول ته په دې موخه راغی چې که بخت ورسره ياري وکړي او کورنۍ ژوند يې لږه ښه شي.

اردوغان خپلې لومړنۍ زده کړې تر سره کړې، بيا د امامانو او خطيبانو په ښوونځي کې شامل شو له دې وروسته په استانبول کې دمرمرې پوهنتون د اقتصاد د سوداګرۍ په پوهنځي کې شامل شو. اردوغان دخپل ماشومتوب پر مهال به پر سړکونو وچه ډوډۍ او ليمو خرڅول، چې له خپلې کورنۍ سره يو څه مرسته وکړي او دخپلو زده کړو لګښتونه هم پوره کړي نوموړي د زده کړې پر مهال د فوټبال دلوبې مينه وال و . نوموړي د جمهوري ګوند له مشر سره په يوه تلويزوني مناظره کې په ډاګه وويل: "دلومړنيو او منځنيو زده کړو پر مهال ما لدې پرته بله چاره نه درلوده چې هندوانې، وچه ډوډۍ وپلورم غوښتل مې چې له پلار سره مې مرسته وکړم او دخپلې زده کړې لګښتونه پوره کړم څکه پلار مې بيوزله و".

د اردوغان سياسي ژوند:

د اردوغان په سياسي ژوند کې له نجم الدين اربکان، چې داسلامي سوکالۍ دګوند مشر او وروسته بيا د ترکيې لومړي وزير شو اغيزمن و. د نجم الدين اربکان فکر اغيز د اردوغان پر سياسي ژوند کې له وړايه جوت و، اردوغان به تل له اربکان سره ملګری و، ان تردې چې دسياسي بنديز راوروسته، په ۱۹۸۰ ز کې له اوښتون وروسته پر اربکان ولګول شو، اردوغان به له هغه سره ليدل کيده اردوغان خپل سياسي ژوند د نجم الدين اربکان پر مشرۍ دملي ژغورنې دګوند له لارې پيل کړ او په ۱۹۷۶ ز کې په استانبول کې دګوند ولايتي مشر شو. وروسته بيا په ۱۹۸۵ ز کې په استانبول کې دسوکالۍ دګوند ولايتي مشر شو او دګوند له پلوه دوه ځلې په ۱۹۸۷ ز او ۱۹۹۱ ز کې دپارلمان دغړيتوب لپاره ونومول شو، خوپارلمان ته يې لاره ونه مونده. په ۱۹۹۴ ز کې دهمدغه ګوند لخوا داستانبول دښاروالۍ ټاکنو ته کانديد شو داستانبول ښاروالۍ په ټوله ترکيه ستره او مشهوره دنده ده اردوغان دخپل رياست پر مهال دښار پر ښکلا سربيره يو شمير لاسته زړه راښکونکي راوړنې هم درلودې، دبيلګې په توګه اردوغان دخپل رياست پر مهال تريوميلون زياتې ونې نهال کړې اويو شين چاپيريال يې رامنځته کړ چې دې کار نوموړي نورهم له خپل ولس سره نږدې کړ . ترکيې سياسي وضعيت هم د دوی په لاس کې و، خو ډيرو خلکو او رايه ورکوونکو پر اردوغان باور وکړ سره له دې، چې اردوغان ديني تمايلات لرل، خو ځان يې دترکيې له سياسي نظام او اساسي قانون سره، چې سيکولر دی او دين له سياسته جلا بولي برابر کړ خپله اردوغان په ځوناستو کې داخبره کړې ده، چې دده ګوند سخت دريځه نه؛ بلکې منځلارې ګوند دی اردوغان له سيکولر ګوندونو سره د ټکر تګلار غوره نه کړه، بلکې يو پياوړې حکومت يې جوړ کړ او هغه کسان يې پر دندو وګومارل، چې دسمون او بدلون پلويان و . اردوغان دمختلفو ډلو له استازو سره خپلې دوستانه اړيکې تودې وساتلې او داېې په اثبات ورسوله، چې نوموړي له سياسي زيرکتيابرخمن دی او دده اسلامي شاليد ددې لامل نه شو، چې سخت دريځه تګلاره خپله کړي .اردوغان له يو

خو دښمنانو ته داهرڅه دسترګو اغزي و هغه و چې حکومت دسوکالۍ ګوند ناقانونه اعلان کړ او نجم الدين اربکان يې له هر ډول سياسي فعاليت څخه منع کړ، دګوند غړي پاشيدل او د فضليت په نوم يې بل ګوندجوړ کړ خو ددې ګوند برخليک هم د پخوانې هغه په څير و، محکمې داهم ناقانونه اعلان کړ او اسلامپالو پسې يې واخيستل. په همدغه ګوند کې نوو پالو دعدالت او پرمختيا په نوم بل ګوندجوړ کړ او مشري يې اردوغان ته ورترغاړې شوه، خو دټولټاکنو کميسون ديوې خبر پاڼې په خبرولو سره رجب طيب اردوغان په ټولټاکنو کې له ونډې اخيستو منعه کړ همدارنګه محکمې دده په حق کې پريکړه وکړه، چې اردوغان نه دکوم ګوند مشر ي کولای شي او نه يې غړيتوب تر لاسه کولای شي او دا حق نه لري، چې پارلمان ته کانديد شي .سره له دې، چې اردوغان په ترکيه کې له پراخه ملاتړه برخمن و، خو يو ځل بيا په همدې کال د ديار بکر محکمې حکم وکړ، چې اردوغان دې زندان ته واستول شي او ۱۰ مياشتې دې هلته پاتې شي او له دې وروسته هيڅ ډول سياسي فعاليت نه شي کولای، لامل يې دا و چې اردوغان په خپلې يوې سياسي وينا کې دغه لاندې شعر ويلې و « مسجدونه زموږ قرارګاوې، ګڼبرې زموږ سپرونه، مناري زموږ نيزې او مومنان زموږ سرتيري دي ». دا ديو ترکي شعر پښتو ژباړه ده محکمې دا وانګيرله، چې داشعرديني انګيزه لري او په ترکيه کې د سيکولر نظام د ړنګولوهڅه ده نو حکومت يې د نيولو امرو کړ اوترڅنګ به يې نوموړي له دې وروسته حکومتي دنده نه شي تر سره کولې .اردوغان په زندان کې څلورمياشتې تيرې کړې اوترېند وروسته په خپل کور کې هم د حکومت تر څارنې لاندې و، ديو څه وخت په تيريدو حکومت ورته عفوه وکړه او په ترکيه کې د سزا په قانون کې يو څه اسانتيا رامنځته شوه او اردوغان دا زمينه تر لاسه کړه چې خپل سياسي فعاليت بيرته پيل کړي.

د (لومړي وزير په توګه) د ۲۰۰۲ ز په فبروری کې په ترکيه کې د لومړي وزارت لپاره ټولټاکنې اعلان شوې او يو شمير ګوندونو ورته خپل کانديدان ودرول چې اردوغان دغو ټاکنو کې چې د ۲۰۰۳ ز دمارچ پر ۱۴ مه نېټه پايلې اعلان شوې له اټکله پورته برې ترلاسه کړ، په دغو ټاکنو کې دترکيې سيکولر ګوندونو هم ونډه اخېستې وه او د شمير شخصيتونو اغيزمن شوي و، لکه محمد صلی الله عليه وسلم دنوموړي ديني روزنه او پالنه يې ښه بيلګه ده وربسې دده استاد نجم الدين اربکان ورته دا زمينه برابره کړه، چې په ۱۹۹۹ ز کې د استانبول ښاروال شي او همدارنګه دوه مسلمان شاعران محمد عاکف او نجيب فاضل هم په هغو کسانو کې راځي، چې اردوغان ورڅخه اغيزمن شوي و . اردوغان لومړي کس دی، چې په ترکيه کې معلولو کسانو ته دا زمينه برابره کړه، چې د ترکيې په پارلماني تاريخ کې لقمان ايوا، چې په سترګو ړوند و پارلمان ته لار ومومي . اردوغان په ۱۹۷۸ ز کې له امنې سره واده وکړه او څلور اولاد لري، چې دوه يې زامن او دوه يې لوڼې دي او په امريکا کې لوړې زده کړې تر سره کوي .

سياسي اړخه اردوګان هڅه کوي، چې دترکيې پخوانې سيکولرمشر مصطفی کمال اتاتورک سياسي ايډيالوژۍ ته دپای ټکی کيږدي او پر ځای يې د دين په ګاټه سمبال ځوانان وروزي چې سيکولريزم پرځای داسلام دمقدس دين پيروي وکړي....

اردوغان هيله مند دی چې په ترکيه کې د دويم ښستګر لقب ترلاسه کړي ځکه نوموړي ځينې داسې ګامونه پورته کړل، چې دمصطفی اتاتورک له کړنوسره پوره توپير لري دبيلګې په توګه دترکيې په سيکولر تعليمي سيستم کې پراخه بدلون ...

د اردوغان په تيرو څوکلونو کې وکولای شول،چې داروپايي ټولنې په کچه شپږم اقتصادي څواک شي ددې ترڅنګ ترکيه له چين وروسته دويم هيواد دی،چې ډيره وده يې کړې ده،ترکيه دکال ۵۰۰ مليارده صادرات لري، دګردې اروپا په کچه داوبدلو په صنعت کې يې لومړی مقام او دتلويزون او بسونو په جوړولو کې يې دريم مقام راخپل کړی دی .

اوسمهال په ترکيه کې دپوهنتونونو شمير ۱۷۲ دی هغه غواړي چې د ۲۰۲۰ ز په رارسيدو به دپوهنتونونو شمير ۵۰۰ ته ورسيږي، د ترکيې پوهنتونو په ۱۹۸۱ ز کې دګردې نړۍ په کچه ۴۲ مقام راخپل کړي و خو په ۲۰۰۸ ز کې دپوهنتون او علمي څېړنو په ډګر کې ۱۸ مقام ته راپورته شوه .

دترکيې دچارو کارپوهان وايي : ددومره بيساري پرمختګ او پراختيا لامل د رجب طيب اردوغان لرليد، هوډ، ژمنتيا او له فساده پاک ملګري او غړي وو.

ځوانان زمونږ د ټولنې فزيکي او معنوي پانګه

فروغګر

که د هرې ټولنې تاريخ، ټولنپيژندنه او اقتصاد مطالعه کړو؛ نو دا جوتيږي چې ددغو ټولو ارزښتونو لويو لويو ماشينونو تر شا ځوانان ولاړ دي. همدوی دي چې د يوې ټولنې ډيناميکه قوه جوړوي؛ خو اوس خبره په دې پورې منحصره ده چې کوم ځوانان دا مواصفات لري او لرلی يې شي؟ وايي چې ځوانان دهغې سپينې لوحی په شان دي چې څه دې په کې ليکل؛ نو هماغه دې وليکل. که موږ د خپل تاريخ تير ديرش کلن پېر ته وګورو؛ نو هغه يو شمېر ځوانان چې هم د کورنۍ روزنې په نتيجه کې او هم په تعليمي او تحصيلي ماحول کې د خپل هېواد او وګړو په فرهنګ وروزل شول او هماغو اولياوو ورته د ژوند لار پر امنيت، سربيره پر دې چې ډيری يې د افغانستان د جهاد او مقاومت سرلاري شول او اوس د افغانستان د فرهنګ او تاريخ برخه څکه کرځيدلي چې د نړۍ په کچه يې د کمونيزم ۷۱ کلن حکومت او فلسفه دړې وړې کړه.

ځينې نور يې له جهاد او مقاومت سره سره لوړو تحصيلاتو ته لاړل چې نن د هېواد د فرهنګي ميراثونو د لا غني کولو لپاره زمونږ د فرهنګي ژوند په آسمان کې د سياسي ستورو په شان ځلېږي او يو شمېر هغه ځوانان چې د کورنۍ تربيې له پلوه بې لارې روزل شوي وو، په ښوونځيو او پوهنځيو کې هم تعليمي او تحصيلي بهيرونه دهغوی پر ناکام شخصيت مثبته اغيزه پرې نه باسي. ومولېدل چې شپيتمه لسيزه کې د کمونستانو په لام ورګډ شول او له روسانو سره اوږه په اوږه دخپل هېواد او ملت په برياو پسې يې متې ونغاړلې.

موږ اوس مهال هم له ورته ستونزو سره مخ يو، د حکومت د نه پاملرنې او همدارنګه د ځينو فاسدو کړيو په لمسون زمونږ ډيری ځوانانو سيکولريزم ته مخه کړې او د خپل مجاهد ملت هغه ټولې قرباني يې هېر کړي دي چې په څوارلس کلن جهاد کې يې يونيم ميليون شهيدان، په همدغه پيمانه معلولان او معيوبان ورکړل، په دې نه پوهېږي چې په افغانستان کې چپي ګوندونه د کوم هدف د ترسره کولو لپاره جوړ شول؟ د چا له خوا تغذيه کيدل او بالاخره په څه کې کار ترې واخيستل شول؟ فقط د غرب زرق و برق يې سترګې ورته ړندې کړې دي او په منده، منده د تباهۍ په لور روان دي، دې غميزې ته ګوره چې ددغو اوباشو ځوانانو عمده برخه هماغه کسان جوړوي چې پلرونه يې د هېواد دښمنانو په لاس د شهادت مقام ترلاسه کړي دي.

اصلاً په دې تېرو ۱۳ کلونو کې د ځوانانو په برخه کې هيڅ پاملرنه ونه شوه، له حکومته خو ګيله نه ده په کار زمونږ مسؤولو ژمنو وګړو هم په دې ډګر کې څه ونشو کړای. ياپې کولی شوی د نه جرأت او ويرې له لامله يې ځوانانو ته د روزنې داسې لارې چارې برابرې نکړې چې د افغانستان په راتلونکي جامعه کې مثبت نقش ولري. له همدې لامله زمونږ ځوانان په ډېر بدحالت کې دي او که د ځوانانو مسؤولين ورته توجه ونکړي؛ ښايي دا هېواد يوځل بيا د فسادونو او فتنو په اور کې لمبه لمبه شي.

اوس هم وخت لا شته چې مسؤول وزارتونه، مشران او نورې زړه سواندې کړی د هېواد د پوهانو او ديني عالمانو په شمول، زمونږ ځوانانو ته د زده کړې او روزنې داسې قانون جوړ کړي چې پوهنځيو ته د رسيدا له پاره يوه نمونه وي، هم د تفکر او کار په لحاظ او هم د نورو ځوانانو د روزلو په بهير کې. پوهېږم چې که نن هغه مجرب استادان چې د ځوانانو لپاره د يو بيل تشکيل د جوړولو ترڅنګ، ديني حلقی د ځوانانو د تنوير لپاره مهمی هستې، کتابخانی، کانفرانسونه، سيمينارونه او علمي مرکزونه جوړ کړي او د وخت په تېرېدو سره دغه هستی دومره پياوړی شي چې هم د خپل هېواد او ولس لپاره او هم خپلې راتلونکی لپاره دومره وسايل ولري چې ځوان نسل له بې لاريو وساتي، په پوهنتونونو، مکاتبو او ليسو کې داسې تعليمي اساسات جوړ کړي چې زمونږ ځوانان هم له محروميتونو وژغوري او هم هغوی د خپل راتلونکي لپاره نورو نسلونو ته د لارې مشال وګرځوي. معارف او د لوړو تحصيلاتو وزارتونو ته ښايي چې ځوانانو ته د زده کړو او روزنې لپاره نورې لارې چارې هم وګوري؛ څکه همدغه ځوانان دي چې زمونږ ټولنه جوړوي او هم زمونږ د اجتماعي، اقتصادي، فرهنګي او تاريخي ارمانو د پوره کولو وارثان دي.

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالجلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسوول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلي کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت د اسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي، پوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه، کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

انجنیر حبیب الرحمن از ...

... نموده، خاطراتی از دوران زنده گی و حیات ایشان بیان داشتند.

بعداً استاد عبدالوهاب (عابد) عضو اکادمی علوم افغانستان و خواهر زاده انجینیر حبیب الرحمن شهید گوشه یی از زنده گی نامه این شهید وارسته را قرأت نمود. وزوایای مختلف زنده گی اش را به بررسی گرفت.

بعداً انجینیر احمد شاه احمدزی رییس حزب اقتدار اسلامی افغانستان یکی از همرزمان انجینیر حبیب الرحمن ،اوصاف شایسته این قافله سالار نهضت اسلامی را یکی پی دیگری بر شمرد و اورا از برازنده ترین شخصیت های طراز اول نهضت خونبار و اسلامی افغانستان وانمود کرد. رنج ها و تکالیف روزهای اول دعوت و مبارزه را یاد کرده و تلاش های خستگی ناپذیر او را ستود.

احمدزی مجاهدین را تشویق کرد تابرای ایجاد یک صف فشرده و واحد سعی نمایند از تفرقه پرهیز نموده، از حرکت های یکه باعث اختلاف در صف مسلمانها شود اجتناب کنند. وی افزود:

در شرایط حساس کنونی که دنیای اسلام با مشکلات عدیده ای روبروست، تنها وحدت و فشردگی صف مسلمانان می تواند ، سدی باشد در برابر توطئه های دشمنان اسلام.

بعداً پیام صلاح الدین ربانی رییس جمعیت اسلامی افغانستان توسط محترم خیرالله آزاد قرأت گردید.

که ضمن سپاسگذاری از رهبری حزب اسلامی افغانستان فرموده بودند:... امروز جای بسیار خورسندی است که در میان این همه هیاهوی مسایل طاقت فرسای سیاسی روز ، فرصتی پیدا شده و دوستانی کمر همت بسته اند واین همایش بزرگداشت ، از چهلمین سالگشت شهادت درخشنده ترین ستاره نهضت اسلامی را به راه انداخته اند.

درست این روزها ، پرواز ملکوتی انجینیر حبیب الرحمن شهید به پیش گاه پروردگارش چهل ساله شد و بزرگداشت از چهل سالگی شهادت او، کار ارزشمندی در راستای ارج گذاری به گذشته پر افتخار نهضت اسلامی افغانستان و ترسیم خط روشن آینده گان رهرو آن است. وقتی نهضت اسلامی میگوییم هدفم یک چار چوب کلان فکری - سیاسی است که حزب اسلامی، جمعیت اسلامی، دعوت اسلامی و شمار دیگری از جریان های اسلامی را شامل می شود. نهضت اسلامی یعنی به عبارت دیگر همان خانواده بزرگ جهادگران و مقاومت گران افغانستان .

همچنان در بخش دیگری از پیام آقای ربانی گفته شده است:

دشمنان بقای افغانستان هم تنها از منسوبان نهضت اسلامی هراس دارند و به همین دلیل ، بدون تفاوت این که چه کسی به جمعیت اسلامی ویا حزب اسلامی ، یا دعوت اسلامی و یا دیگر احزاب و سازمان های قبلی جهادی منسوب است ، هدف ترور های زنجیره ای سیزده سال اخیر ، نیز همین ها قرار گرفته اند.

بزرگان حزب اسلامی در جریان هستند که در زمان حیات شهید استاد برهان الدین ربانی رهبرجهاد و مقاومت مردم افغانستان ، تلاش هایی برای نزدیکی بیشتر همه منسوبان نهضت اسلامی آغاز شده بود و مااین کار را دنبال کردیم . یکی از گام هایی که به صورت مشترک در جمعیت اسلامی و حزب اسلامی برداشتیم ، در دور اول انتخابات ریاست جمهوری بود که همه با هم تصمیم مشترک گرفته و یک تکت واحد را معرفی کردیم و در دور دوم انتخابات ریاست جمهوری، شمار دیگری از برادران نهضت اسلامی نیز به این دسته پیوستند و این کاروان را بیشتر تقویت کردند . بار دیگر در جمع شما دوستان تعهد می کنیم که در راستای نزدیکی و همدلی تلاش بیشتر خواهیم کرد و از آرمان شهدا که یک افغانستان سر بلند و با عزت است ، پاسداری خواهیم کرد.

محمد زمان مزمل یکتن از نویسنده گان چیره دست دوران جهاد و عضو پیشین شورای اجرایه حزب اسلامی افغانستان که از دوستان و همدوره های انجینیر حبیب الرحمن بود، با زبان رسا و فصیح، خوبی های این مرد مبارز و پیشتاز نهضت اسلامی افغانستان را بیان داشته شرایط دشواری را که انجینیر حبیب الرحمن در آن زنده گی می کرد، دوره استبداد و حاکمیت طاغوت قلمداد نمود، از رنج و تکالیف بی شماری که این شهید پاک طینت و سایر رهبران نهضت در زندان داؤود مستبد داشتند ، خیلی وحشتناک و غیر انسانی خوانده ، بر خورده عمال رژیم را که اکثراً کمونستان بخصوص اعضای حزب پرچم بود به باد انتقاد گرفت .

محترم مزمل : بی تفاوتی احزاب اسلامی و جهادی را ناشی از نشه قدرت خواند و برگزاری این محفل را قدمی در راه یاد آوری از کار نامه های شهدا، بخصوص طلایه دار نهضت اسلامی افغانستان حساب نموده و ایشان افزودند: اختلافات مجاهدین باعث شد تا ملت مان پس از پیروزی انقلاب اسلامی و جهاد هنوز از آواره گی و در بدری خلاص نه شده ، هر روز در وطن ما جوی های خون جاریست .

موصوف انجینیر حبیب الرحمن را مجاهد راستین خوانده شمه یی از اخلاق اسلامی اش را ذکر نمود که سخنان عالمانه و جذاب وی بالای سامعین تأثیر نموده ، آنرا با نعره های تکبیر استقبال کردند.

همچنان اناتسر محفل از گروپ ترانه بنیاد سید منصور حسین یار شهید دعوت نمود تا ترانه بسیار جالبی را که در رثای شهید انجینیر حبیب الرحمن و سایر شهدا سروده شده بود به خوانش گرفتند، گروپ ترانه که با لباس های یکنواخت و منظم دیده می شدند ، با زمزمه دلنشین خویش فضای روانی محفل را تغییر داده و در دل سامعین چنگ زده و مردم را به خاطرات دوران جهاد فرا خواند ، همه درباد شهدایی فرورفتند که نام آنها گرفته می شد.

قابل یادهانی است که سید نور آقا حسین یار بابرنامه های فرهنگی و جهت زنده نگهداشتن نام و یاد شهدا سالهاست تلاش می نماید.

همچنان محترم نیازمحمد امیری والی ولایت لوگر به نمایندگی از محترم استاد عبد رب الرسول سیاف رهبر حزب دعوت اسلامی افغانستان و یکی از دوستان نزدیک انجینیر حبیب الرحمن صحبت نموده از رهبری حزب اسلامی افغانستان که چنین ابتکاری نموده به خورسندی یاد کرد .

ایشان انجینیر حبیب الرحمن را متعلق به خانواده بزرگ جهاد دانسته و یکی از بزرگمردان مبارزات اسلامی در تاریخ کشور ما خواندند .

سید عمر اعزامی عضو اکادمی علوم افغانستان و یکی از نویسندگان مشهور دوران جهاد درنگی بر آثار و نوشته های مطبوع و غیر مطبوع انجینیر حبیب الرحمن نمود، بر جهان بینی اسلامی و حقایق و قضاوت ها را آثار ناب وی دانسته و انجینیر حبیب الرحمن را از چهرهای درخشان علمی و سیاسی سده پنجاه خواند، افکار و اندیشه های وی را در جهت دهی نسل جوان آمروز بسیار مفید دانسته و نقش فکری این شخصیت دلسوز و مدبر را در روند مبارزات اسلامی در حقیقت چراغی بر فراز راه رهروان این مسیر دانست .وی تأکید کرد که نشر و چاپ آثار باقیمانده انجینیر حبیب الرحمن

باید از طریق تنظیم های جهادی ، خانواده و یا دوستان وی تدوین و در اختیار نسل جوان قرار گیرد.

اعزامی برشی از نامه سر گشاده انجینیر حبیب الرحمن ،داکتر محمد عمر و خواجه محفوظ را که عنوانی محمد داؤود رییس رژیم حاکم نوشته شده بود چنین بیان داشت :(... چه دلیلی وجود دارد که امثال ما در طی نیم قرن از لحاظ مادی به پیشرفت ها و ترقیات چشم گیری نایل آیند و ما هم چنان به حالت ناگوار ادامه دهیم ...

خواهشمندیم زعامت شما با درک اهمیت موضوع عطف توجه نموده شرایط پیشرفت و ترقی افغانستان عزیز را با فعال ساختن نیروی اسلامی ملت مسلمان افغانستان مهیا ساخته سدهای استعمار را درهم شکند.

سوسیال امپریالیزم و وابسته های مزدور و مداح آن با ایجاد علایق و موانع در داخل و خارج همیشه کوشیده است که افغانستان عزیز را در شرایط حد اقل رشد نگهدارد تا روزی از انزجار مردم استفاده نموده و کمونیزم را بر آنها تحمیل نماید...

اعزامی اظهار آرزومندی نمود، تا آثار باقیمانده وی روزی در اختیار ملت عزیز افغانستان قرار گرفته مردم بتوانند شخصیت علمی و سیاسی این بزرگ مرد را بهتر بشناسند .

سپس محمد باقر محقق فرزند ارشد استاد محمد محقق رییس حزب وحدت ملی افغانستان پیام معاون دوم تیم انتخاباتی پیشتاز اصلاحات و همگرایی را بخوانش گرفت: که استاد ضمن اظهار خوشی از برگزاری محفل فرموده بودند:

شهید انجینیر حبیب الرحمن و همسنگرانش شهید و فداکار شان مانند: شهید استاد غلام محمد نیازی و دیگر عزیزان در شرایطی نهضت اسلامی افغانستان را منحیث یک طرح علمی برون رفت از بحران استبداد مطرح کرد که همگان به اسلام به مثابه یک نیروی رهایی بخش باور خود را از دست داده بودند.

فداکاری این عزیزان باعث شد که اسلام به منزله دین رهایی بخش و خواهان عزت و کرامت انسان و تطبیق کننده عدالت اجتماعی مطرح گردد...))

بعداً برادر مجاهد عبدالهادی ارغندیوال پیرامون موضوع سخنرانی مبسوطی ایراد فرموده : ویژه گی های انجینیر حبیب الرحمن را یکی پی دیگری برشمرد و گفتند : وی قافله سالار نهضت اسلامی افغانستان و از پیشگامان نهضت های رهایی بخش در جهان اسلام بودند.

موصوف ، صداقت ،تواضع،و اخلاق حمیده این بزرگمرد مبارزه را ستوده او را از برجسته ترین طلایه داران نهضت اسلامی افغانستان یاد نمود، ضمن اوصاف شایسته آن، خاطراتی را از دوران مبارزه و ایام زندان آن تذکر داد که برخی از سامعین چنان زیر تأثیر شمایل او فرورفتند که اشک از چشمان شان جاری گردید .

ایشان روی قضایای جاری سخنان ارزشمندی ایراد فرموده چالش های موجود در تأخیر اعلان نتایج انتخابات را برشمرده حاضرین را به شکیبایی و تحمل پذیری دعوت نمودند. و اظهار امیدواری کرد که با درایت دو تیم انتخاباتی پیشتاز به زودی صاحب زعیم جدید و نظام قوی و فراگیر در کشور خود باشیم.

آقای ارغندیوال گفت: در انتخابات تقلب گسترده صورت گرفت. وی افزود: حکومت وحدت ملی را بحیث اخف ضررین پذیرفته ایم، نه اینکه حالت مطلوب باشد.

رییس حزب اسلامی افغانستان وعده سپرد که برای تحقق آرمان شهدا لحظ یی فروگذاشت نکند هر چند به قیمت جانش تمام شود. وی نسبت اینکه مجاهدین دردولت نتوانسته اند خدمت شایسته یی به خانوادهای معظم شهدا و همسنگران شان انجام دهند اظهار تأسف نمود.

آقای ارغندیوال از حضور گرم مهمانان عزیز ،بستگان شهدا، مسؤلین امنیتی ، اصحاب رسانه ها ستاد برگزاری محفل و تیم ترانه بنیاد سید منصور حسین یار که در رأس آن سید نور آقا حسین یار قرار داشته و با اجرای ترانه ی زیبا که از حنجره جوانان با احساس به خوانش گرفته شد و فضای سکوت را با صدای آهنگین شان شکستند اظهار قدردانی نمود.

همچنان از تعجیل در برگزاری محفل ، کمی ها و کاستی های برنامه،که نسبت کمبود وقت حتا شایقین از خوانش اشعار و گویش خاطرات خویش از آن شهید، فرصت نیافتند، پوزش خواست و تعهد سپرد که همه ساله با برپایی محفل شکوه مندی یاد شهدا را گرامی دارند .

در قسمت پایانی برنامه عزیز الرحمن تواب معاون ولایت کاپیسا و برادر زاده انجینیر حبیب الرحمن ضمن یادهانی خصایل نیک موصوف خاطراتی را از دوران مبارزات ،تحصیل و حبس وی به حاضرین بیان داشتند . که چون کوه ثبات و استقامت آنرا در برابر استبداد رژیم سفاک داؤود به نمایش گذاشت .

آقای تواب از رهبری حزب اسلامی که چهلمین سالروز شهادت وی را گرامیداشتند سپاس گذاری کرد .

بعداً قطع نامه محفل توسط برادر مجاهد منشی عبدالمجید یکتن از بزرگان جهاد و همرزمان شهید قرأت گردید .

در فرجام محفل با دعاییه محترم قاضی محمود الحسن عضو اسبق شورای اجراییه حزب اسلامی و استاد دانشگاه به پایان رسید .قابل یادآوری میدانم که قبل از آغاز برنامه نوار سخنرانی شهید که به مناسبت به رسمیت شناختن بنگله دیش ۴۲ سال قبل ثبت شده بود گذاشته شد که برخی از سامعین از شنیدن آن به یاد خاطرات آن روز، اشک ریختند .

(تاریخ شهادت ۲۷ اسد)

دواړه کاندیدان لاهم د ...

سلا نه شي؛ دا به د دوی ترمنځ نوري شوې موافقې هم اغیزمنې کړي.

"د دواړو کاندیدانو په بله ناسته کې به دا مسایل یا حل شي؛ یا به د اختلافي مسایلو په تړګه همداسې پاته کېږي؛ دا مسایل ډیر اهمیت لري، که حل نه شي، ممکن ټول توافقات تر پوښتنې لاندې لاړ شي او ناحل شوي پاته شي، هلته بیا کاندیدان د انتخاباتو نهایي نتیجو ته مخه کوي او له سیاسي مسایلو تیریږي."

د جمهوري ریاست د دواړو کاندیدانو ترمنځ سیاسي جوړجاړي کې ویل شوي؛ چې بایلونکی کاندید ته به د اجرایوي شورا مشري ورکوي. په همدې حال کې د اشرف غني احمدزي په مشرۍ د تحول او تداوم ټیم ویاند فیض الله ذکي وایي؛ چې دواړه کاندیدان به د سه شنبې په ورځ د اختلافي مسایلو د حل لپاره یو ځل بیا مخامخ خبرې وکړي.

ښاغلي ذکي ازادي راډیو ته وویل، چې د اختلاف ور موضوع پوازې او پوازې د اجرایوي شورا د رییس صلاحیتونه دي او په خبره یې هیله شته، چې کاندیدان پرې په راتلونکي ملاقات کې موافقه وکړي.

"هغې په مثبت مسیر رواني دي، اختلافي نظرونه په یوه مساله دي، هغه هم د اجرایوي مشر د صلاحیتونو په اړه دي؛ هیله ده، چې د سه شنبې ورځې په ملاقات کې دواړه کاندیدان په دې اړه موافقې وکړي او ګډې پریکړې ته ورسیږي."

د پلټل شویو رایو د باطلېدو ...

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دوشنبې په ورځ (د ۲۰۱۴م کال د اګست میاشتې ۲۵مه) د ماسپښین وروسته د رایو د باطلېدو پروسه پیل کړه. د رایو د باطلېدو پروسه د ارزونې د بهیر په څېر په علنې ډول تر سره کیږي او د دواړو نوماندانو د استازو او نړیوالو څارونکو پر وړاندې پرمخ ځي.

د ټاکنو د کمېسیون مرستیال عبدالرحمان هوتکي، د دوشنبې په ورځ په کابل کې د رایو د باطلېدو د پروسې د پیل څخه تر مخه وویل: "تر اوسه د ټاکنو خپلواک کمېسیون په یوه علنې غونډه کې د ناظرینو، شاهدینو او رسنیو په حضور کې رسمي ډول د تفتیش د ارزیابۍ تشایع او له سره شمیرنه پیلوي."

د وسلو د ورکېدو په اړه ...

په دې اړه ډیر جزیات ورنه کړل؛ خو وېې ویل: "هغه څه چې ملي اردو ته یې ورکړي، که هغه وسلې یا نور وسایل دي موږ یې حساب ور کولو ته حاضر یو او په دې اړه نوره تبصره نه کوو."

په هغه راپور کې چې څه موده وړاندې د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د سرمفتش له دفتر یا سیګار څخه خپور شوی؛ ویل شوي چې، د ۲۰۰۴ میلادي کال راهیسې له افغانستان سره د نږدې اوه سوه زره میلو وسلو مرسته شوې ده. د دې اداري په راپور کې راغلي چې؛ د دې وسلو مجموعي ارزښت ۶۲۶ملیونه ډالره و؛ چې اوس یې له ډلې شا او خوا دوه لکه میله وسله ورکه ده یا دا، چې د وسلو مسلسل شمیرې تکراري ثبت شوې دي.

په ورته وخت کې دې اداري ویلي؛ په هغه وخت کې افغان ځواکونو ته د دوی تر ضرورت ډېرې وسلې ورکړل شوې دي او دی ته اوس دا احتمال شته چې دا وسلې دې د دولت مخالفینو ته په لاس ورغلي وي.

صدق و صفا

در رثای انجنیر حبیب الرحمن شهید

شاد باد روحش که در اول بکف قرآن گرفت — در صفارت عشق پاک حضرت سبحان گرفت
نام نیکش حضرت حبیب الرحمن شد زحق — خلق خوش از سیرت آن رحمت رحمن گرفت
از صداقت بود با صدق و صفا در کار دین — همچویاراولین (رض) حب نبی(ص) آسان گرفت
کار ناشایسته را در هر کجا تقبیح کرد — شیوه فاروق(رض) را در محضراعیان گرفت
با ادب میساخت در کار همچو عثمان غنی (رض) — از کمال حلم جا در قلب هر انسان گرفت
صاحب علم لدن دیدم ورا گاه سخن — چون علی (رض) از سرکشان در انجمن پیمان گرفت
تا قدم ثابت نهاد در کار دعوت بیگمان — وسعت مشرب به ظرف خویش از نعمان (رح)گرفت
با (نیازی) همره و همرا ز بود در روزو شب — آن به جانان وصل شد، این جانب میدان گرفت
با عنایات خدا (ج) شد دعوتش سر تا سری — سر پرست خلق و پرچم دامن روسان گرفت
بادبالوگ عجیبی ، کرد قدرت انتقال — بر سر کار آمد آن دیوانه وایوان گرفت
صبحدم اعلان جمهوری نمود با کروفر — خلق و پرچم اقتدار دفتر و دیوان گرفت
زین مصیبت این ابر مرد دلاورهمرزمان — با توکل بر خدا (ج) تنویر بر اذهان گرفت
نوریان با پخش انوار الهی هر کدام — از تدابیر متینش، چهره تابان گرفت
دوستداران گریگفتندش، ره اخفا بگیر — آفتابی ترشد آخر، گوشه زندان گرفت
روس ظالم هر جفایی را که آورد بر سرش — جز الله چیزی نگفت، مستنطقش ایمان گرفت
زین سخن داوود شد مبهوت و احضارش نمود — چون شرایط پیش کرد، او جانب یزدان گرفت
گفت: من آزادی دین و وطن را طالبم — لیک آن را از کف تو، پیرو شیطان گرفت
زین سخن چون افعی پیچید، گفت: هیهات زود — خارجش سازید، کزحرفش، سرم دوران گرفت

سال پنجاه و سه و بیست و هفتم ماه اسد
چشم ما ((بیرنگ)) نمود و جلوه جانان گرفت

((روانشاد استاد گل آقا بیرنگ))